مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

صدیق پسرلی

۲۰۲۳/۰۱/۱۳

غـزل

(د استاد صدیق پسرلي نهم تلین)

لاړې زه دې یو عالم الم ته تنها پرېښودم
ګوره دا دې چا ته لکه پل په صحرا پرېښودم

نور دې تل په تاسو مبارک وي د خوښۍ ژوندون
پرې مې ږدئ یارانو چې بیدرده آشنا پرېښودم

زړه مې د آرزو ډولۍ د وصل سمندر ته وړه
زه لکه د سیل خلی په غاړه دریا پرېښودم

لاړه چې په زړه د بې دردانو کې څه سا پو کړي
زه یې د شپېلۍ په زړه کې غوټه نوا پرېښودم

راغله لاړه تېره شوه چې هېر یې وم که هېر یې کړم
زه یې منتظر په ورکه لار د وفا پرېښودم

څومره له پښو سپک وو لکه ابر نو بهار د ژوند
زه یې د غاټول غوندې په وچه بیدیا پرېښودم

حسن مې ژوندون کړ پسرلیه نذرانه د عشق
زه یې لکه شمه د مزار په ژړا پرېښودم

استاد صدیق پسرلي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ